

امان الله سيلاب ساپي

# د زړه قطرې

ستا د سترګو بلا واخلم بيا دې سترګى ولې سرې دي

پام چې وار دې خطا نشي ما منلى غرغرې دي

د ارزو جوپه باريږي حوصلې وهي خنجکې(ترپکې)

د اميد په قافله کې شروع نوې نغارې دي

ستا د مينى خزانه بس زما ژوند ته بهانه ده

ګوندې وخته ما ليدلي په خپل سر خاورې ايرې دي

نازولي ليلا راشه! د مجنون ګريوان ته ګوره

دا باران د ملغلرو که د اوښکو فوارې دي

مخ دې بلې لمبې کاندي خوله دې ګل شي بيا غونچه شي

ځکه ماته ډيرى ګرانى د پتنګ بلبل نخرې دي

پس له ډير لت او کوبه ستا له تلو قربانيږم

د نکريزو په جامه کې مى قربان د زړه قطرى دى

چې په ژرنده مې ځان وړه کړو نو ايله مى وصال بيا موند

د رنجو په نوم مى کړي ستا د سترکو ننداري دي

چې ارى ته مى سر ورکړ نو اوربل کې په خندا شوم

د ږمنځ په رنګ ښکل کړي زلفى ما خورې ورى دي

شاعر: امان الله سيلاب ساپي

ترتيب کونکى: عبدالقادر مسعود

www.esalat.org

# تصور

زه یم ناست ځان له جانان یو تصور کښي جوړومه

کله يي سترګي توررومه، کله يي شونډې ښکلومه

زه یم ناست د غم په هار کښي د رڼا بخری پییمه

خم د رنګ کښي لا خمار شته زه تري لپي ډکومه

د سخی ګوتو دي ځار شم ځنګه ښکلی ویش دی وکړو

زه یو ځاځکی خو ځیګر کښي دریابونه ګرځومه

زر او زور او تخت دې واغشت، خیشت، نظر او خیال دې راکړه

د سرو په سور طوفان کښي دي کړه ډوبه لوږه طمعه

دا یو غم د ویشه پاتي چرته پټ تیاره کښي ناست وه

ورو ورو پټ مي زړه له راغی لکه مار د ښکار په طمعه

په دي هر څه دي رضا یم د لالونو زرو خانه

غم څه مرګ مي هم قبول دی په خندا يي قبلومه

دا خو تا اور اور کی یو د سرور ما ته بخښلی

ځکه زه دې تور محل کښي خپل خوبونه بلومه

خلق وایي لاړ بوډا شو غنی خپلي مستی وخوړ

زه یم ناست د  یار ویښتو کښي د نرګس ګلونه ږدمه

مرګه ځه چرته ورکیږه زه لا نه یمه وزګار

خم د رنګ کښي لا خمار شته زه تري لپي ډکومه

شاعر: غنی خان

ترتیب کونکی: عبدالقادر مسعود

*   *   *

www.esalat.org